لوړو زده کړو وزارت

لوګر پوهنتون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

ښوونې او روزنې پوهنځی

کېمیا څانګه

# د کیمیا څانګې کتلاک


ترتیب کوونکي: پوهنیار عزیز محمد کاکړ،

نوماند پوهنیار سردارولي ثاقب او

نوماند پوهنیار محمد فلاح سلطاني



۱۴۰۴ هـ ش


بسم الله الرحمن الرحيم

**لوړو زده کړو وزارت**

**لوگر پوهنتون**

**علمي او محصلانو چارو معاونیت**

**ښووني او روزنې پوهنځی**

**کېمیا څانگه**

د کېمیا څانگې کتلاک چې د لومړي ځل لپاره د نوموړې څانگې په (۱۳) گڼه پروتوکول او ۱۵ / ۱۲ / ۱۴۰۳ هـ ل نېټې غونډه کې ثبت او تایید شوی وو، د ښووني او روزنې پوهنځي د ستراتیژیک پلان نوي کېدو له امله یې د ځینو اصلاحاتو راوړلو وروسته د کېمیا څانگې په (۸) گڼه پروتوکول او ۱۰ / ۰۷ / ۱۴۰۴ هـ ل نېټې غونډه کې ثبت او تایید شوی دی.

کېمیا څانگې آمر

نامزد پوهنیار محمد فلاح سلطاني

امضاء (                    )

---

همدارنگه د کېمیا څانگې کتلاک د فرهنگي او نشراتو کمېټې په (۵) گڼه پروتوکول او ۱۱ / ۰۷ / ۱۴۰۴ هـ ل نېټې غونډه کې ثبت او تایید دی.

د فرهنگي او نشراتو کمېټې مسئول

پوهنمل محمد شریف سلطاني

امضاء (                    )

---

همدارنگه د کېمیا څانگې کتلاک د ښووني او روزنې پوهنځي علمي شورا په (۸) گڼه پروتوکول او ۲۱ / ۰۷ / ۱۴۰۴ هـ ل نېټې غونډه کې ثبت او تایید دی.

د ښووني او روزنې پوهنځی رئیس

پوهنمل ابراهیم نوري

امضاء (                    )

## د کیمیا څانګې آمر پیغام

په اوسني عصر کې، ساینس او معاصره ټکنالوژي د بشري ژوند د اسانتیاوو، پرمختګ او هوساینې لپاره یو اساسي عامل ګڼل کېږي. د دې پرمختګونو په منځ کې د کېمیاعلم څانګړی اهمیت لري، ځکه چې د ساینس د یوې بنسټیزې برخې په توګه، د ژوند په بېلابېلو برخو، لکه صنعت، درمل جوړونه، چاپېریال ساتنه او انرژي تولید کې مهم رول لري.

زموږ ګران هېواد، چې د پرمختګ او ځان بسیاینې په لور لومړني ګامونه اخلي، د کېمیاپه څېر بنسټیزو علومو ته بې‌ساري اړتیا لري. څېړنې، نوښت او علمي زده‌کړې د هر پرمختللي ملت د ځواک اساس جوړوي، چې د دې اهمیت ته قران کریم هم اشاره کړې ده **" وَأَعِدُّوا لَهُم مَا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ "**

د ښوونې او روزنې پوهنځي د کېمیادیپارټمنټ د یو علمي او مسلکي مرکز په توګه، د متخصصو، نوښتګرو او ژمنو کادرونو روزنه خپله اساسي موخه بولي. مونږ هوډ لرو چې محصلین نه یوازې د علم په ګاڼه سمبال کړو، بلکې د ټولنې د عملي اړتیاوو پوره کولو لپاره هم اغېزمن ګامونه پورته کړي.

لله الحمد، د کېمیادیپارټمنټ تل د کیفیت او نوښت د پیاوړتیا په لټه کې دی او ژمن دی چې د علمي، مسلکي او څېړنیزو لاسته‌راوړنو له لارې د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ لپاره خپل مهم رول ولوبوي.

**په درنښت**

**نوماند پوهنیار محمد فلاح سلطانی**

**د کېمیا څانګې آمر**

# د مطالبو لړلیک

**عنوان** **مخ**

سریزه............................................................................. ...........۱

## لومړی څپرکی

۱.۱. لومړی مبحث: د کیمیا څانګې مخینه ........................................................ ۲
۱.۱.۱. لرلید (Vision).............................................................................. ۳
۱.۱.۲. رسالت (Mission) ........................................................................ ۳
۱.۱.۳. ستراتیژیکې موخې (Strategic Goals)............................................... ۳
۱.۱.۴. ارزښتونه (Objectives)..................................................................... ۳
۱.۱.۵. تجهیزاتو برخه ................................................................................ ۳
۱.۲. دوهم مبحث: د کیمیا دیپارټمنت موقعیت او امکاناتو په هکله............................. ٤
۱.۲.۱. د کیمیا دیپارټمنت ودانۍ ................................................................. ٤
۱.۲.۲ د کیمیا څانګې جوړښت او تشکیلات ..................................................... ٤
۱.۲.۳. د کیمیا څانګې د علمي کادر غړو احصائیه ............................................... ٥
۱.۳. دریم مبحث: د محصلینو احصائیه او د علمي کادرې غړو سره نسبت...................... ٥
۱.۳.۱. د ۱۳۹۳ تر ۱۴۰۳ کال پورې د جنسیت پر بنسټ د محصلانو احصائیه ............... ٥
۱.۳.۲. د ۱۳۹۳ کال نه تر ۱۳۹۴ پورې د استاد- محصل نسبت.................................. ٦
۱.۳.۳. د ۱۳۹۵ کال نه تر ۱۴۰۳ پورې د استاد- محصل نسبت.................................. ۷
۱.۳.۴. د کیمیا څانګې لابراتوار ................................................................... ۷
۱.۳.۵. د کیمیا څانګې کتاب خونه................................................................. ۷

## دوهم څپرکی

د کیمیا څانګې کمېټې ....................................................................... ۸
۲.۱. ستراتیژیک پلان کمېټې تشکیلاتي جوړښت ................................................. ۸
۲.۱.۱. د ستراتیژیک پلان کمېټې د دندو لایحه.................................................... ۸
۲.۲. د کیفیت لوړاوي او اعتبارو ورکونې کمېټې تشکیلاتي جدول .............................. ۹
۲.۲.۱. د اعتبار ورکونې او کیفیت لوړاوي کمېټې د دندو لایحه ................................ ۹

۲.۳. د کریکولم کمېټې تشکیلاتي جدول ........................................................ ۱۰
۲.۳.۱. د کریکولم کمېټې د دندو لایحه ........................................................ ۱۰

## درېیم څپرکی

د کېمیا څانګې درسي نصاب ........................................................ ۱۱
۳.۱. لومړی سمستر ........................................................ ۱۱
۳.۲. دویم سمستر........................................................ ۱۲
۳.۳. دریم سمستر........................................................ ۱۳
۳.۴. څلورم سمستر ........................................................ ۱٤
۳.۵. پنځم سمستر........................................................ ۱۵
۳.٦. شپږم سمستر ........................................................ ۱٦
۳.۷. اووم سمستر ........................................................ ۱۷
۳.۸. اتم سمستر ........................................................ ۱۹
د کېمیا څانګې د علمي کادري غړو پېژندنه ........................................................ ۲۰
۴.۱. پوهنیار صفی الله نوابي ........................................................ ۲۰
۴.۲. پوهنمل محمد جاوید ستانکزی........................................................ ۲۱
۴.۳. پوهنیار عزیر محمد کاکړ ........................................................ ۲۲
۴.۴. نوماند پوهنیار سرداروليي ثاقب ........................................................ ۲۳
۴.۵. نوماند پوهنیار محمد فلاح سلطانی ........................................................ ۲٤
۴.٦. نوماند پوهنیار شیر محمد حریفال........................................................ ۲۵

## سریزه

الحمد لله الذي جعل العلم سبيلاً إلى النور، وجعل الجهل طريقاً إلى الظلام، ففضل العلماء ورفع شأنهم في الدنيا والآخرة. نحمده سبحانه وتعالى ونشكره على نعمه التي لا تعد ولا تحصى. ونشهد أن لا إله إلا الله، ونشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلوات ربي وسلامه عليه، وعلى آله وصحبه أجمعين.

علم د انسان د پرمختګ، بیدارۍ او اصلاح بنسټیز عامل دی، او په ټولو علومو کې هغه علم تر ټولو غوره دی چې د انسان د دنیا او آخرت د فلاح سبب وګرځي. له همدې امله، کېمیاد علومو د یوې مهمې څانګې په توګه د بشري تمدن، صنعتي پراختیا، د ژوند د اسانتیاوو، او د علمي څېړنو لپاره ځانګړی اهمیت لري. دا څانګه نه یوازې د طبیعي پدیدو د درک وسیله ده، بلکې د ټکنالوژۍ، صنعت، درمل جوړونې، او چاپېریال ساتنې په برخو کې هم مهم رول لري.

د ښوونې او روزنې پوهنځي د کېمیاڅانګې دا کتلاک یوه منظمه او علمي مسوده ده، چې د دې څانګې د تشکیل، علمي او اداري چارو، علمي کادرونو، محصلانو احصائیه، د استاد او محصل ترمنځ د نسبي اندښول، او د څانګې د موخو او ارزښتونو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کوي. دا کتلاک د محصلانو، استادانو، څېړونکو، او د علمي او تحصیلي بنسټونو لپاره یوه مهمه سرچینه ده، چې د کېمیاڅانګې د ارزښت، کړنو، او علمي لاسته راوړنو وضاحت پکې شوی دی.

په دې کتلاک کې د کېمیاڅانګې مخینه، تشکیل، علمي کادرونه، د محصلینو احصائیه، د استاد او محصل ترمنځ تناسب، د څانګې لرلید، رسالت، ارزښتونه، ستراتیژیکې موخې، بېلابېلې کمېټې، د هرې کمېټې تشکیلاتي جدولونه، او د علمي غړو بیوګرافي په شمول ټول اړین معلومات ځای پر ځای شوي دي.

زموږ موخه دا ده چې د دې کتلاک له لارې د کېمیاڅانګې د علمي، اداري، او مسلکي چارو یو روښانه تصویر وړاندې کړو، ترڅو د دې څانګې د اهمیت، ارزښت، او فعالیتونو په اړه هر څوک کره معلومات ترلاسه کړي.

الله تعالی دې موږ ټولو ته توفیق راکړي چې د علمي لاسته راوړنو له لارې د ټولنې د پرمختګ، ښېرازۍ، او سوکالۍ لپاره مؤثر ګامونه واخلو. آمین.

# لومړی څپرکی

## ۱. ۱. لومړی مبحث: د کېمیا څانګې مخینه

د کېمیا – بیولوژي څانګه لوګر د پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي له ایجاد سره سم د لوړو زده کړو وزارت د (۵۷۵) ګڼې د وړاندیز او د ۱۳ / ۱۲ / ۱۳۹۳ ل کال سره سم او د لوړو زده کړو وزارت د (۱۲۰۰) ګڼې حکم د ۱۳۹۲/۲/۲۰ نېټې سره ایجاد او په فعالیت پیل وکړ.

لوګر پوهنتون د (۱٦۵) ګڼې وړاندیز او د ۱۳۹۴/۳/۲۵ نېټې سره سم د لوړو زده کړو وزارت د انسجام او اکاډمیکو چارو له ریاست څخه د یادو څانګو د بېل والي غوښتنه وکړه، چې له نېکه مرغه بیا د (۱۱۴) ګڼې حکم پر بنسټ د ۱۳۹۴/۴/۹ نېټې سره سم د تقنین او پراختیایي آمریت له لوري د علمي بورډ د ۱۳۹۴/۴/۸ نېټې د پرېکړې پر بنسټ د کېمیا څانګه د نورو څانګو په څېر مستقله او د دوو علمي کادر غړو په درلودو سره یې په فعالیت پیل وکړ.

د کېمیا - بیولوژي له څانګو څخه په کال ۱۳۹٦ ل کې ۴۲ تنه او په کال ۱۳۹۷ل کې ۳۱ تنه فارغ شول. د کېمیا څانګه وروسته له هغې چې د بیولوژي له څانګې څخه جدا شوه په لومړي ځل یې په کال ۱۳۹۸ ل کې (۳۰) تنه فارغان ورکړل چې جنسیت ته په کتو له هغې جملې څخه یې ( ۲ ) تنه اناث وو.

د کېمیا څانګه په اوس وخت کې شپږ تنه علمي کادر غړي لري چې له دې جملې څخه یې درې تنه د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې کړې دي.

د یادولو وړ ده چې همدا مهال د کېمیا اړوند ( ۵۵ ) تنه زده کړیالان د لېسانس دورې په زده کړو بوخت دي.

### ۱. ۱. ۱. لرلید (Vision)

د ښوونې او روزنې پوهنځي کېميا څانګه هڅه کوي چې د ټولنې او کار بازار علمي او صنعتي اړتياوو پر بنسټ د نوښتګرو څېړونکو او مسلکي ښوونکو روزلو په برخه کې د هیواد په کچه یو څانګړی مقام ترلاسه کړي.

### ۱. ۱. ۲. رسالت (Mission)

د ښوونې او روزنې پوهنځي کېميا څانګه په لازمو مهارتونو، معاصرو درسي میتودونو او ښوونيزې ټکنالوژۍ په اسلامي او ملي روحیه سمبال د ټولنې او کار بازار د علمي او صنعتي اړتیاوو مطابق د نوښتګرو څېړونکو او مسلکي ښوونکو روزل خپل ماموریت ګڼي.

### ۱. ۱. ۳. ستراتیژیکي موخې (Strategic Goals)

۱. د علمي کادر غړو د وړتیا لوړول.
۲. د علمي څېړنو ترسره کول.
۳. د کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکونې د دریم پړاو تېرول.
٤. د اکاډمیکو بستونو زیاتول د څانګې په اوسنې تشکیل کې.
۵. د زده کړیالانو عملي او تجربي مهارتونو او تخصصي پوهې کیفیت لوړول.
٦. د زده کړیالانو ترمینځ د تجربو شریکولو او افکارو د ګډون زمینه برابرول.

### ۱. ۱. ۴. ارزښتونه (Objectives)

۱. د اسلامي، ملي او انساني ارزښتونو درناوی
۲. د فرامینو، رهبري شورى پرېکړو، احکامو، قوانینو او مقرراتو درناوی
۳. دیانت او تقوا
٤. عدالت، تعهد او صداقت
۵. روڼتیا او حساب‌ورکونه
٦. اخلاقي اصولو رعایت
۷. د مسئولیت احساس او ښې علمي نظام داری ته پاملرنه
۸. ابتکار او نوښتګري
۹. سالم علمي رقابت
۱۰. کاري مصئونیت
۱۱. ګډون او همکاري
۱۲. د فساد او تعصب پر ضد مبارزه

### ۱. ۱. ۵. تجهیزاتو برخه

۱. په LCD یا پروجکتورونو د ټولګیو سمبالول.
۲. د کېمیا څانګې لابراتوار تجهیزول.
۳. د څانګې دفتر نښلول له انټرنټ سره.
٤. د داخلي او خارجي سافټ او هارډ کتابونو او لکچر نوټونو په لرلو غني کتابتون جوړول.

## ۱. ۲. دوهم مبحث: د کېمیا دیپارټمنت موقعیت او امکاناتو په هکله

### ۱. ۲. ۱. د کېمیا دیپارټمنت ودانی

د کېمیا دیپارټمنت درسی خوني او تعمیر چې د لوګر پوهنتون د عمومي دروازې ته په داخلیدو سره ښي لوري ته د ښوونې او روزنې پوهنځي دوهم تعمیر (B بلاک) په لومړني پوړ کې خپلې درسي چارې پر مخ بیایې چې مناسب درسي چاپیریال لري او صنفونه یې په LCD، خطابه میز او مناسبو میز لرونکو چوکیو سمبال دي.


د یادونې وړ دی چې د نوموړې څانګې لابراتوار د همدې تعمیر په دوهم پوړ کې چې یوه ډیره مناسبه خونه لري ځای لري او د عملي زده کړو دپاره زیات مواد او وسائل پکې شتون لری او د کېمیا څانګې د درنو غړو هڅې روانې دي تر څو لابراتوار په معیاري ډول ترتیب او مجهز کړي.






### ۱. ۲. ۲ د کېمیا څانګې جوړښت او تشکیلات

د کېمیا څانګه اوس مهال شپږ تنه غړي لري چې په لاندې ډول دي.



### ۱. ۲. ۳. د کیمیا څانګې د علمي کادر غړو احصائیه

| د کیمیا څانګې د علمي کادر غړی احصائیه | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | نوم | تخلص | د پلار نوم | علمي رتبه | د تحصیل درجه | تحصیلي څانګې | تقرر نېټه | کاري تجربه | علمي آثار | د علمي مقالو خپرېدل | کتنې |
| ۱ | صفی الله | نوابی | عبدالجلیل | پوهنیار | ماستر | کیمیای عضوی | ۱۳۹۳/۲/۲۴ | ۱۰ | ۱ | ٤ | |
| ۲ | محمد جاوید | ستانکزی | محمد شریف | پوهنمل | ماستر | کیمیای تحلیلی | ۱۳۹۴/۵/۱۱ | ۹ | ۱ | ۸ | |
| ۳ | عزیز محمد | کاکړ | پاینده محمد | پوهنیار | ماستر | کیمیای فزیکی و علوم ذرات | ۱۳۹۷/۱/۱۹ | ۷ | ۱ | ۱۲ | |
| ۴ | سردارولي | ثاقب | احمد نبي | نوماند پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۱۴۰۱/۱۱/۱ | ۲ | نلری | نلری | |
| ۵ | محمد فلاح | سلطانی | محمد انور | نوماند پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۱۴۰۲/۱۰/۷ | ۲ | نلری | نلری | |
| ٦ | شیرمحمد | حریفال | امیر محمد | نوماند پوهنیار | لیسانس | کیمیا | ۱۴۰۳/۲/۲۷ | ۱ | نلری | نلری | |

## ۱. ۳. دریم مبحث: د محصلینو احصائیه او د علمي کادري غړو سره نسبت

### ۱. ۳. ۱. د ۱۳۹۳ تر ۱۴۰۳ کال پورې د جنسیت پر بنسټ د محصلانو احصائیه

| کال | کیمیا – بیولوژي | |
|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه |
| ۱۳۹۳ | ۰ | ۱۲ |
| | ۱۲ | |
| ۱۳۹۴ | ۲۵ | ۱۹ |
| | ۴۴ | |
| کال | کیمیا څانګه | |
| | نارینه | ښځینه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳۹۵ | ۳۱ | ۳ | ۳۴ |
| ۱۳۹٦ | ۳٦ | ۱۴ | ۵۰ |
| ۱۳۹۷ | ۲۸ | ۱۴ | ۴۲ |
| ۱۳۹۸ | ۵٦ | ۷ | ٦۳ |
| ۱۳۹۹ | ۱۲۴ | ۴۵ | ۱٦۹ |
| ۱۴۰۰ | ۱۰۹ | ۴۱ | ۱۵۰ |
| ۱۴۰۱ | ۷٦ | ۰ | ۷٦ |
| ۱۴۰۲ | ۸٦ | ۰ | ۸٦ |
| ۱۴۰۳ | ٦۰ | ۰ | ٦۰ |

**د ۱۳۹۳ تر ۱۴۰۳ کال پورې د جنسیت پر بنسټ د محصلانو احصائیه**

### ۱. ۳. ۲. د ۱۳۹۳ کال نه تر ۱۳۹۴ پورې د استاد- محصل نسبت

| کیمیا – بیولوژي څانګه | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کال | د محصلینو شمېر | | د رسمي استادانو شمېر | د غیر رسمي استادانو شمېر | د ټولو استادانو شمېر | د استاد پر محصل نسبت |
| | نارینه | ښځینه | | | | |
| ۱۳۹۳ | ۱۲ | | ۳ | ۰ | ۳ | ۱ پر ۴ |
| | ۰ | ۱۲ | | | | |
| ۱۳۹۴ | ۴۳ | | ۴ | ۰ | ۴ | ۱ پر ۱۱ |
| | ۱۹ | ۲۴ | | | | |

**له ۱۳۹۳ تر ۱۳۹۴ کال پورې د استاد-محصل نسبت**

## ۱. ۳. ۳. د ۱۳۹۵ کال نه تر ۱۴۰۳ پورې د استاد- محصل نسبت

| کېمیا ډيپارټمنټ | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کال | د محصلینو شمېر | | | د رسمي استادانو شمېر | د غیر رسمي استادانو شمېر | د ټولو استادانو شمېر | د استاد پر محصل نسبت |
| | نارینه | ښځینه | ټول | | | | |
| ۱۳۹۵ | ۴۹ | ۱۶ | ۶۵ | ۲ | ۱ | ۳ | ۱ پر ۲۱ |
| ۱۳۹۶ | ۸۹ | ۲۴ | ۱۱۳ | ۳ | ۱ | ۴ | ۱ پر ۲۸ |
| ۱۳۹۷ | ۱۱۲ | ۲۵ | ۱۳۷ | ۲ | ۲ | ۴ | ۱ پر ۳۴ |
| ۱۳۹۸ | ۱۳۴ | ۲۶ | ۱۶۰ | ۲ | ۲ | ۴ | ۱ پر ۴۰ |
| ۱۳۹۹ | ۱۲۴ | ۴۵ | ۱۶۹ | ۲ | ۲ | ۴ | ۱ پر ۴۲ |
| ۱۴۰۰ | ۱۰۹ | ۴۱ | ۱۵۰ | ۲ | ۲ | ۴ | ۱ پر ۳۷ |
| ۱۴۰۱ | ۷۶ | ۰ | ۷۶ | ۲ | ۲ | ۴ | ۱ پر ۱۹ |
| ۱۴۰۲ | ۸۶ | ۰ | ۸۶ | ۴ | ۱ | ۵ | ۱ پر ۱۷ |
| ۱۴۰۳ | ۶۰ | ۰ | ۶۰ | ۶ | ۰ | ۶ | ۱ پر ۱۰ |

**د ۱۳۹۵ – ۱۴۰۳ کال پورې د کېمیا څانګې لپاره د استاد- محصل نسبت**

## ۱. ۳. ۴. د کېمیا څانګې لابراتوار

کېمیا څانګې لابراتوار چې ۱۳۹۸ کال کې د نړیوال بانک په مالي مرسته را مینځته او د هغه دپاره يې د اړتيا وړ توکو پانګونه وکړه چې په عملي کړنو کې ورڅخه استاذان او محصلين کار اخلي.


## ۱. ۳. ۵. د کېمیا څانګې کتاب خونه

کېمیا څانګه کومه څانګړې کتاب خونه نه لري خو د کېمیا برخې داخلي، خارجي او نورو کتابونو دپاره په څانګه کې يوه الماری ټاکل شوې دی چې نوي داخلي او خارجي کتابونه په کې ځای پر ځای شوي دي چې د ضرورت پر مهال معلوماتو را ټولو دپاره د څانګې درنو محصلينو په اختيار کې هم ورکول کيږي.

# دوهم څپرکی

## د کیمیا څانګې کمېټې

### ۲. ۱. ستراتیژیک پلان کمېټې تشکیلاتي جوړښت




#### ۲. ۱. ۱. د ستراتیژیک پلان کمېټې د دندو لایحه

۱. د څانګې پلان څخه نظارت او څارنه کېږي.

۲. په هره ربع او هر کال کې پوهنځی کمېټې ته د ستراتیژیک پلان د تطبیق په اړه مستند راپور وړاندې کېږي.

۳. د کمېټې غړي په غونډو کې منظم او فعال ګډون کوي او د کمېټې مشر لخوا ورسپارل شوې دندې پر وخت او سم ډول ترسره کېږي.

٤. د ښې همغږۍ او اصلاحي کړنو په موخه د هر کال په پای کې پوهنځي ته کلنی راپور ترتیب او ورکول کېږي.

٥. د پوهنځي د ستراتیژیک پلان کمېټې سره د پلان جوړولو او تطبیق پر مهال مرسته او همکاري کېږي.

٦. د ستراتیژیک پلان د ښه تطبیق په موخه د څانګې د کیفیت لوړواوي او اعتبار ورکونې کمېټې سره کاري اړیکې ټینګېږي.


۷. د ستراتیژیک پلان د نوي کولو او ترتیب په موخه د تولنې له خبره وګړو او اړوند اداراتو او محصلانو سره غونډې جوړېږي.

۸. لږ تر لږه په دوو میاشتو کې یو ځل د کمیټې غونډه دایرېږي.

۹. تولې هغه چارې سرته رسېږي چې د کمېټې اړوند مشر له خوا ورسپارل کېږي.

۱۰. نورې هغه دندې چې د اړوندو ذیصلاح مقاماتو لخوا ورته سپارل کیږي.

## ۲. ۲. د کیفیت لوړاوي او اعتبارو ورکونې کمېټې تشکیلاتي جدول




### ۲. ۲. ۱. د اعتبار ورکونې او کیفیت لوړاوي کمېټې د دندو لایحه

۱. د څانګې کې د کیفیت ښه والي هڅې.

۲. د څارنې پر مهال بیا څارنې تېم سره مرسته.

۳. د لوړېر زده کړو وزارت، پوهنتون ، پوهنځی او اړوند څانګې له ستراتیژیک پلانونو، کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکونې له مهمو اسنادو سره کامله بلدتیا.

٤. د کمېټې دپاره د خودې ارزونې او بیا څارنې په بنسټ مناسب اسناد او شواهد تیارول.

٥. د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتون، پوهنځی او اړوند څانګې د ستراتیژیک پلانونو د تطبیق او عملي کېدو څخه څارنه.

٦. د څانګې په سطحه د پلانونو د تطبیق په پار ناستو او محفلونو ترتیب.

۷. د څانګې په سطحه د عملیاتي او بهبود پلانونو د خط سیر د تطبیق څخه څارنه.

۸. د څانګې درسي مفرداتو او کریکولم د تطبیق څارنه او د سمستر په پای کې د پوهنځی کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکونې کمېټې ته د هغه راپول استول.

۹. د څانګې د کړنو او اکادمیکو فعالیتونو څارل او ارزول.

۱۰. د پوهنځي کیفیت لوړاوی او اعتبار ورکونې کمېټې د برنامو تطبیق او عملي کول.

۱۱. د کیفیت ښه والي ټولې هغه کړنې تر سره کول چې د اړوند ذیصلاح چارواکو له خوا سپال کیږي.

## ۲. ۳. د کریکولم کمېټې تشکیلاتي جدول

نوماند پوهنیار سردارولی (ثاقب)
(مسئول)

| | | |
|---|---|---|
| نوماند پوهنیار شیرمحمد (حریفال) (غړی) | نوماند پوهنیار محمد فلاح (سلطاني) (غړی) | پوهنیار صفی الله (نوابي) (غړی) |

### ۲. ۳. ۱. د کریکولم کمېټې د دندو لایحه

۱. د پلان سره سم د څانګې تحصیلي نصاب مطالعه کول او د قوت او کمزورتیا نقاط يې معلومول .

۲. د تحصیلي نصاب د نوي‌والي چارې په مستند ډول ترسره کول.

۳. د تحصیلي نصاب د نوي‌والي او پرمختګ په موخه د اهل خبره وو سره غونډې ترسره کول.

٤. د درسي مضامینو او مفرداتو د تعیین او تثبیت په موخه، د کار بازار سنجول، د ټولنې غوښتنې او اړتیاوې معلومول.

٥. د کار بازار، د ټولنې د غوښتنو او اړتیاوو د معلوملو لپاره د پوښتنپاڼو ترتیب، تثبیت، تحلیل او په دې اړه راپور جوړول.

٦. د غنامندۍ په موخه، د څانګې موجوده تحصیلي نصاب د نورو پوهنتونونو مربوطه پوهنځیو د څانګو له تحصیلي نصاب سره مقایسه کول.

۷. د استادانو درسي کتابونه، لکچرنوټونه، سلایډونه او نور درسي مواد د تحصیلي نصاب له مفرداتو سره مقایسه کول.

۸. لږ تر لږه په میاشت کې یو ځل د کمیټې غونډه دایرول.

۹. نورې هغه دندې ترسره کول چې د اړوندو ذیصلاح مقاماتو له خوا ورته سپارل کیږي.

## درېیم څپرکی

## د کیمیا څانګې درسي نصاب

| ۱. ۳. لومړی سمستر | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کرېډیټونو شمېر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
| | | | | نظري | عملي | سیمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| ۱ | عمومي کیمیا I | Ed.Ch.۰۱,۲۰ | اساسي | ٤٥ | | ۳ | ٤٨ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۲ | د عمومي کیمیا I تطبیقات | Ed.Ch.۰۱,۲۱ | اساسي | | ١٦ | | ١٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۳ | د کیمیاریاضي I | Ed.Ma.۰۱,۲۰ | اساسي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | ریاضي | - | |
| ٤ | عمومي بیولوژي I | Ed.Bi.۰۱,۲۰ | اساسي | ٥٦ | ۸ | | ٦٤ | ٤ | بیولوژي | - | |
| ٥ | اسلامي نړۍ لید | Ed.Is.۰۱,۰۱ | پوهنتون شمول | ١٦ | | | ١٦ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| ٦ | کمپیوټر I | Ed.Cs.۰۱,۰۳ | پوهنتون شمول | ۲۰ | ۱۰ | ۲ | ۳۲ | ۲ | کمپیوټر ساینس | - | |
| ۷ | انګلیسي I | Ed.En.۰۱,۰۲ | پوهنتون شمول | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | انګلیسي | - | |
| ۸ | عمومي ارواپوهنه | Ps.Gp.۰۱,۰۷ | اساسي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | اروایوهنه | - | |
| مجموعه | | | | ۲۲۹ | ۳٤ | ۹ | ۲۷۲ | ۱۷ | | | |

## ۳. ۲. دویم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګورۍ | درسي ساعتونه | | | | کرېډېټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سیمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| ۱ | عمومي کیمیاII | Ed.Ch.۰۲ .۲۰ | اساسي | ٤٥ | | ۳ | ٤٨ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۲ | د عمومي کیمیاII تطبیقات | Ed.Ch.۰۲ .۲۱ | اساسي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۳ | په لابراتوار کې ایمني شرایط | Ed.Ch.۰۲ .۲۲ | اختصاصي | ۲۰ | ۱۲ | | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ٤ | عمومي بیولوژی II | Ed.Bi.۰۲ .۲۰ | اساسي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | بیولوژي | - | |
| ۵ | د کیمیاریاضي II | Ed.Ma.۰۲ .۲۰ | اساسي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | ریاضي | - | |
| ٦ | کمپیوټر II | Ed.Cs.۰۲ .۰۳ | پوهنتون شمول | ۱۵ | ۱۵ | ۲ | ۳۲ | ۲ | کمپیوټر ساینس | - | |
| ۷ | انګلیسي II | Ed.En.۰۲ .۰۲ | پوهنتون شمول | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | انګلیسي | - | |
| ۸ | د عباداتو فلسفه | Ed.Is.۰۲ .۰۱ | پوهنتون شمول | ۱۵ | | ۱ | ۱٦ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| ۹ | عمومي فزیک I | Ed.Ph.۰۲ .۲۰ | اساسي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | فزیک | - | |

| ۱۰ | انکشافي ارواپوهنه | Ps.Gp.۰۲ .۰۷ | اساسي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مجموعه | | | | ۲٤۷ | ٤۳ | ۱٤ | ۳۰۳ | ۱۹ | | | |

## ۳. ۳. دریم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګورۍ | درسي ساعتونه | | | | کرېډیټونو شمېر | د تدریس چارې یې پر غاړه لري هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې | وړاندې لازمي مضامین | کېنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| ۱ | عمومي کیمیاIII | Ed.Ch.۰۳ .۲۰ | اساسي | ۳۵ | | ۳ | ۳۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۲ | د عمومي کیمیاIII تطبیقات | Ed.Ch.۰۳ .۲۱ | اساسي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۳ | د کیمیاریاضي III | Ed.Ma.۰۳ .۲۰ | اساسي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | ریاضي | - | |
| ٤ | معاصر تاریخ | Ed.Hi.۰۳ .۰۵ | پوهنتون شمول | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | تاریخ | - | |
| ٥ | د اسلام اخلاقي نظام | Ed.Is.۰۳ .۰۱ | پوهنتون شمول | ۱٥ | | ۱ | ۱٦ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| ٦ | فزیک II | Ed.Ph.۰۳ .۲۰ | اساسي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | فزیک | - | |
| ۷ | ښوونیزه ارواپوهنه | Ps.Gp.۰۳ .۰۹ | اساسي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | غیر عضوي کیمیا I | Ed.Ch.۰۳ .۲۳ | اختصاصي | ۳۵ | | ۳ | ۳۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۹ | د غیر عضوي کیمیا I تطبیقات | Ed.Ch.۰۳ .۲٤ | اختصاصي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۱۰ | چاپیریال ساتنه | Ed.Es.۰۳,۰٤ | پوهنتون شمول | ۲۸ | ۲ | ۲ | ۳۲ | ۲ | چاپیریال ساتنه | - | |
| مجموعه | | | | ۲۵۵ | ۳٤ | ۱٥ | ۳۰۳ | ۱۹ | | | |

## ۳. ۴. خلورم سمستر

| شمیره | مضمون | کود | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سیمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| ۱ | غیر عضوي کیمیا II | Ed.Ch.۰٤ .۲۳ | اختصاصي | ۳۵ | | ۳ | ۳۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۲ | د غیر عضوي کیمیا II تطبیقات | Ed.Ch.۰٤ .۲٤ | اختصاصي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۳ | عضوي کیمیا I | Ed.Ch.۰٤ .۲۵ | اختصاصي | ۳۵ | | ۳ | ۳۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ٤ | د عضوي کیمیا I تطبیقات | Ed.Ch.۰٤ .۲٦ | اختصاصي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۵ | د اسلام ټولنیز نظام | Ed.Is.۰٤ .۰۱ | پوهنتون شمول | ۱۵ | | ۱ | ۱٦ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | د ښوونې او روزنې بنسټونه | Ed.Ps.۰٤ .۰۹ | اساسي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| ۷ | بدني روزنه | Pd.Pe.۰٤ .۰۸ | پوهنتون شمول | ۱۵ | ۱۵ | ۲ | ۳۲ | ۲ | اروا پوهنه | - | |
| ۸ | کرسټل شیمي او تطبیقات یې | Ed.Ch.۰٤ .۲۷ | اختصاصي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۹ | کیمیاوي تکنالوژي | Ed.Ch.۰٤ .۲۸ | اختصاصي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۱۰ | د کمپلکسونو کیمیا | Ed.Ch.۰٤ .۲۹ | اختصاصي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۱۱ | محاسبوي کیمیاI | Ed.Ch.۰٤ .۳۰ | اختصاصي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| مجموعه | | | | ۲۵٤ | ٤۷ | ۱۵ | ۳۱٦ | ۲۱ | | | |

## ۳. ۵. پنځم سمستر

| شمېره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کرېډیټونو شمېر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| ۱ | غیر عضوي کیمیاIII | Ed.Ch.۰۵ .۲۳ | اختصاصي | ۳۵ | | ۳ | ۳۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۲ | د غیر عضوي کیمیاIII تطبیقات | Ed.Ch.۰۵ .۲٤ | اختصاصي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۳ | عضوي کیمیاII | Ed.Ch.۰۵ | اختصاصي | ۳۵ | | ۳ | ۳۸ | ۳ | کیمیا | - | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | .۲۵ | | | | | | | | | |
| ٤ | د عضوي کیمیاII تطبیقات | Ed.Ch.۰۵ .۲۶ | اختصاصي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ٥ | توصیفي تحلیلي کیمیا | Ed.Ch.۰۵ .۳۲ | اختصاصي | ۳٥ | | ۳ | ۳۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ٦ | د توصیفي تحلیلي کیمیاتطبیقات | Ed.Ch.۰۵ .۳۳ | اختصاصي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۷ | رادیوشیمي | Ed.Ch.۰۵ .۳٤ | اختصاصي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۸ | پولیمیر کیمیا | Ed.Ch.۰۵ .۳۱ | اختصاصي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۹ | د چاپیریال ساتنې کیمیا | Ed.Ch.۰۵ .۳٥ | اختصاصي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۱۰ | محاسبوي کیمیاII | Ed.Ch.۰۵ .۳۰ | اختصاصي | ۳۲ | | | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۱۱ | د اسلام سیاسي نظام | Ed.Is.۰۵ .۰۱ | پوهنتون شمول | ۱٥ | | ۱ | ۱٦ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲٤۲ | ٤۸ | ۱٦ | ۳۰٦ | ۲۱ | | | |

## ۳.٦. شپږم سمستر

| شمیره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | د تدریس چارې پې پر غاړه لري هغه پوهنځۍ او یا ډیپارټمنټ چې | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سیمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عضوي کیمیاIII | Ed.Ch.۰٦.۲٥ | اختصاصي | ۳٥ | | ۳ | ۳۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۲ | د عضوي کیمیاIII تطبیقات | Ed.Ch.۰٦.۲٦ | اختصاصي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۳ | طیف ارزونه | Ed.Ch.۰٦.۳٦ | اختصاصي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ٤ | د کیمیاتدریس میتود | Ed.Ch.۰٦.۳۷ | اختصاصي | ٦۰ | | ٤ | ٦٤ | ٤ | کیمیا | - | |
| ٥ | د کیمیااختصاصي کورس | Ed.Ch.۰٦.۳۸ | اختصاصي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ٦ | مقداري تحلیلي کیمیا | Ed.Ch.۰٦.۳۹ | اختصاصي | ٤٥ | | ۳ | ٤۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۷ | د مقداري تحلیلي کیمیاتطبیقات | Ed.Ch.۰٦.۳۰ | اختصاصي | | ۱٦ | | ۱٦ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۸ | ښوونیزه ارزونه | Ed.Ch.۰٦.۱۰ | اساسي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | ارواپوهنه | - | |
| ۹ | د اسلام اقتصادي نظام | Ed.Is.۰٦.۰۱ | پوهنتون شمول | ۱٥ | | ۱ | ۱٦ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲٤٥ | ۳۲ | ۱۷ | ۲۹٤ | ۱۹ | | | |

| **۳ .۷. اووم سمستر** | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمیره | مضمون | کود | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کریډیټونو شمیر | هغه پوهنځی او یا ډیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
| | | | | نظري | عملي | سیمینار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| ۱ | تدریس زده کړه | Pe.Ed.۰۷.۱۲ | اساسي | ۲٤ | ٤۰ | | ٦٤ | ٤ | کیمیا | - | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٢ | فزيكي كيميا I | Ed.Ch.٠٧ .٤١ | اختصاصي | ٣٥ | | ٣ | ٣٨ | ٣ | كيميا | - | |
| ٣ | د فزيكي كيميا I تطبيقات | Ed.Ch.٠٧ .٤٢ | اختصاصي | | ١٦ | | ١٦ | ١ | كيميا | - | |
| ٤ | بيوشيمي I | Ed.Ch.٠٧ .٤٣ | اختصاصي | ٣٥ | | ٣ | ٣٨ | ٣ | كيميا | - | |
| ٥ | د بيوشيمي I تطبيقات | Ed.Ch.٠٧ .٤٤ | اختصاصي | | ١٦ | | ١٦ | ١ | كيميا | - | |
| ٦ | د درملو كيميا | Ed.Ch.٠٧ .٤٥ | اختصاصي | ٣٠ | | ٢ | ٣٢ | ٢ | كيميا | - | |
| ٧ | د خوراكي موادو كيميا | Ed.Ch.٠٧ .٤٦ | اختصاصي | ٣٠ | | ٢ | ٣٢ | ٢ | كيميا | - | |
| ٨ | ښوونيز مديريت | Pe.Em.٠٧ .١١ | اساسي | ٣٠ | | ٢ | ٣٢ | ٢ | ارواپوهنه | - | |
| ٩ | د تحقيق كرنلاري | Ed.Ch.٠٧ .٤٧ | پوهنتون شمول | ١٦ | | ١٦ | ٣٢ | ٢ | كيميا | - | |
| ١٠ | قرآن او معاصر علوم | Ed.Is.٠٧ .٠١ | پوهنتون شمول | ١٥ | | ١ | ١٦ | ١ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ٢٤٥ | ٧٢ | ٢٩ | ٣١٦ | ٢١ | | | |

## ۳. ۸. اتم سمستر

| شمېره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | کرېډیټونو شمېر | هغه پوهنځی او یا دیپارټمنټ چې د تدریس چارې یې پر غاړه لري | وړاندې لازمي مضامین | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | سیمنار، علمي سفر او یا پروژه | مجموعه | | | | |
| ۱ | فزیکي کیمیا II | Ed.Ch.۰۸.۴۱ | اختصاصي | ۴۵ | | ۳ | ۴۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۲ | د فزیکي کیمیا II تطبیقات | Ed.Ch.۰۸.۴۲ | اختصاصي | | ۱۶ | | ۱۶ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۳ | بیوشیمي II | Ed.Ch.۰۸.۴۳ | اختصاصي | ۴۵ | | ۳ | ۴۸ | ۳ | کیمیا | - | |
| ۴ | د بیوشیمي II تطبیقات | Ed.Ch.۰۸.۴۴ | اختصاصي | | ۱۶ | | ۱۶ | ۱ | کیمیا | - | |
| ۵ | مونوګراف | Ed.Ch.۰۸.۴۸ | پوهنتون شمول | ۱۶ | | ۴۸ | ۶۴ | ۴ | کیمیا | - | |
| ۶ | کلوییدي کیمیااو تطبیقات یې | Ed.Ch.۰۸.۴۹ | اختصاصي | ۲۶ | ۴ | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۷ | نانو کیمیا | Ed.Ch.۰۸.۵۰ | اختصاصي | ۲۴ | ۶ | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۸ | کاربردي تکنالوژي | Ed.Ch.۰۸.۵۱ | اساسي | ۳۰ | | ۲ | ۳۲ | ۲ | کیمیا | - | |
| ۹ | اسلامي تمدن | Ed.Is.۰۸.۰۱ | پوهنتون شمول | ۱۵ | | ۱ | ۱۶ | ۱ | اسلامي ثقافت | - | |
| مجموعه | | | | ۲۰۱ | ۴۲ | ۶۱ | ۳۰۴ | ۱۹ | | | |

# خلورم څپرکی

## د کېمیا څانګې د علمې کادري غړو پېژندنه

### ۴. ۱. پوهنيار صفی الله نوابي

پوهنيار صفی الله نوابی د مرحوم عبدالجلیل زوی چې په ۱۳۳٦ ه  کال د لوګر ولایت، برکي برک ولسوالي زقوم خیلو کلي په یوه دینداره کورنی کې زیږیدلی، په ۱۳۷۱ کال د زقوم خېلو زړې کلا لومړني ښوونځي کې شامل له هغه وروسته له دریم صنف څخه تر شپږم صنف پورې د حضرت بلال رض په منځني ښوونځي او د لېسې دورې د برکي راجان عالي لېسې څخه په عالي درجه فارغ بالاخره په ۱۳۸۲ ه ش کال د کانکور له لارې د کابل سید جمال الدین عالي دارالمعلیمن ته لاره پیدا او په۱۳۸۴ له نوموړي دارالمعلمین څخه په اعلی درجه فارغ د خپلې څانګې علاقې له مخې یې د تدریس چارې د برکي برک ولسوالي د غازي امین الله خان په عالي لیسه کې پیل کړې چې په ۱۳۸۸ ه ش کال د اختصاصی کانکور له لارې د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون ته د داخل خدمت په صفت لارې موندلو سره د تدریس چارې هم د خوشحال خان په عالي لېسه کې پر مخ بیولې.

پوهنيار صفی الله نوابی د نوموړي د پوهنتون څخه په ۱۳۹۱ کال په کادري نمرو فارغ او په ۱۳۹۲ ه ش د لوګر ساینس آمریت کې د کېمیا څانګې د یو علمي کادر په صفت دنده پیل او په ۱۳۹۳ ه ش کال د ازاد رقابت له لارې د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د کېمیا څانګې د علمي کادر په صفت لاره و مونده.

نوموړی په ۱۳۹٦ ه ش کال د ایران هیواد ګیلان نړیوال پوهنتون ته د ماسټري لوړو زده کړو په پاره سفر وکړ او خپله ماستري دوره یې د نوموړي پوهنتون څخه په عضوي کېمیا برخه کې په ډېر موفقیت سره تکمیل  بیرته خپل ګران هیواد ته را ستنېدو سره سم د څانګې د آمریت دنده ورته وسپارل شوه او تر ۱۴۰۲ هـ ل کال پورې یې نوموړی مسئولیت په بریالي توګه ترسره کړه.

### ۴. ۲. پوهنمل محمد جاوید ستانکزی

پوهنمل محمد جاوید ستانکزی د محمدشریف زوی او د ارواښاد حاجي محمد صدیق لمسی، په ۱۳۶۹ لمریز کال د لوګر ولایت پل علم اړوند کلنګارشنک بابا کلا په کلي کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې. د ماشومتوب دوره یې په خپل کلي کې دویاړمن پلار ترچترلاندې علمې او دینداره کورنۍ په انګړ کې ترشا کړې.

لومړنۍ زده کړې یې د شاهي کلا لیسه کې بشپړې کړې او له لومړنۍ زده کړو وروسته یې د کلنګار جهادي لیسه کې زده کړوته دوام ورکړ او په ۱۳۸۸ لمریزکال کې له لیسې څخه فارغ شو. د ۱۳۸۹ لمریزکال د کانکور د آزموینې څخه وروسته د کابل د طبیعی علومو پوهنځي د کېمیا څانګې ته بریالی اوپه ۱۳۹۲ لمریزکال کې په کادري درجه فارغ شو. له فراغت سره سم یې په ۱۳۹۴/۵/۱۱ لمریز کال کې د آزادي سیالی له لارې د لوګر پوهنتون د کېمیا څانګې کادري بست ته بریالی شو. په ۱۳۹۷/۱۱/۶ لمریزکال کې یې د ایران د IKIU پوهنتون د تحلیلي کیمیا ( Analytical Chemistry ) په څانګه کې د ماسټري زده کړې پیل کړې او له نوموړي هیواد څخه بېرته په راستون چې له را ستېدو سره سم د لوګر پوهنتون د استاذانو تقرر، علمي ترفیعاتو او انفکاک د امریت دنده ورته وسپارل شوه.

## ۴. ۳. پوهنیار عزیز محمد کاکړ

پوهنیار عزیز محمد کاکړ د پاینده محمد زوی، په ۱۳۷۴ هـ ل کال کې د کابل ولایت قره باغ ولسوالی د کاکړو کلي کې، په یوه دینداره او روښانفکره کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې دي.

په ۱۳۸۰ هـ ل کال کې ښوونځي ته شامل شو او په ۱۳۹۰ هـ ل کال کې د حضرت قیس بن سعد (رض) عالي لیسې څخه، د دولسم ټولګي تر کچې، په اعلی درجه فارغ شو. په ۱۳۹۱هـ ل کال کې د کانکور ازموینې له لارې د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي د کېمیا څانګې ته بریالی شو، چې په ۱۳۹۴هـ ل کال کې یې له یاد پوهنځي څخه په کادري نمرو فارغ‌تحصیل شو.

په ۱۳۹۵ کال کې د رقابتي ازموینې له لارې د ډاکار مؤسسې د اوبو ټسټ لابراتوار د تخنیکر (ټکنیشن) په توګه وټاکل شو، چې دغه دنده یې د دوه کلونو لپاره په بریالیتوب سره ترسره کړه. بالاخره، په ۱۳۹۷هـ ل کال کې د آزاد رقابت له لارې د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د کېمیا څانګې د علمي کادر غړی وټاکل شو.

له ۱۳۹۷هـ ل کال نیمایي څخه د ۱۳۹۹هـ ل کال تر پایه پورې، د ښوونې او روزنې پوهنځي د ریاست په غوښتنه، د کېمیا څانګې د سرپرست آمر په توګه وټاکل شو.

د قزاقستان هیواد د لوړو زده کړو وزارت د اختصاصي بورسونو د استادانو ترمنځ د رقابتي ازموینې له بریالي تېرېدو وروسته، په ۱۴۰۰/۰۷/۱۲ هـ ل نېټه، د ماستري زده کړو لپاره قزاقستان ته ولېږل شو. نوموړي د الفارابي پوهنتون د کېمیا او کېمیاوي ټکنالوژۍ پوهنځي د فزیکي کېمیا او موادو علومو برخه کې خپلې زده کړې په لوړو نمرو سره بشپړې کړې.

له فراغت سره سم، په ۱۴۰۳/۰۴/۲۶ هـ ل نېټه بیرته ګران هیواد ته را ستون شو او دا مهال د لوګر پوهنتون کې د تدریس چارې پر مخ بیایي.

### ۴ .۴. نوماند پوهنیار سردارولي ثاقب

سردارولي ثاقب په ۱۳۷۱ کال د لوګر ولایت برکي برک ولسوالي بداني خیلو کلي کې زیږیدلی دی، لومړنی زده کړې یې د څلوزیو ښوونځي کې ترسره له هغه وروسته د لیسې دروه د غازي امین الله خان لوګري په عالي لیسه کې تکمیل کړې ده.

په کال ۱۳۸۹ د دولسم ټولګي څخه په اعلی درجه فارغ او د کانکور امتحان له لارې د ننګرهار پوهنتون ښونې او روزنې پوهنځی کېمیادیپارتمنت ته لاره پیدا کړه. په کال ۱۳۹۴ د نوموړي پوهنتون څخه په ۸۵٪ فارغ چې د فراغت سره سم د کابل اتمې ناحیې اړوند میوند خصوصي عالي کې د تدریس مقدسه دنده شروع او تر ۱۳۹۹ کال پورې په نوموړې لېسه کې د تدریس تر څنګ په روغتیا د طبي علومو انستیتوت، آسیا طبي علومو انستیتوت، صبح امید آموزشي مرکز، او محور کانکور کې د کانکور آمادګي تدریس مسئولیت درلود له ۱۳۹۹ – ۱۴۰۱ د لوګر مرکز او محمد آغې ولسوالی د کانکور چمتوالي ټولګیو کې د تدریس دنده تر سره کړې او د ۱۴۰۱ سلواغې میاشت کې د آزاد رقابت له لارې د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي کېمیادیپارتمنټ ته د علمي کادر په صفت د آزاد رقابت له لارې لاره موندلې او د تدریس چارې پرمخ وړي.

### ۴. ۵. نوماند پوهنیار محمد فلاح سلطانی

محمد فلاح سلطاني د محمد انور زوی او د سلطان محمد لمسی په ۱۳۷۳ ه ش کال د لوګر ولایت برکي برک ولسوالي کې زیږېدلی، په ۱۳۷۷ ه ل کال د ځیني ستونزو له کبله ایران هیواد ته سفر وکړ چې خپلې لومړنی زده کړې یې د ایران هیواد د شهید حسن اتحادي ښوونځي (اصفهان – ایران) کې تر سره، خپلې منځنی زده کړې د شهدای ابهر (اصفهان – ایران) کې تکمیل او له هغه وروسته خپله د لېسې دوره د شهید محمد تقي شریعتي په عالي لېسه کې په اعلی درجه سرته رسولو وروسته د پوهنتون څخه مخکنی دوره (دوره پیش دانشګاهي) په امام خمیني (اصفهان – ایران) پیش دانشګاهي انستیتوت کې تکمیل کولو سره بېرته خپل ګران هیواد ته راستون او د کانکور له لارې د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی کېمیا څانګې ته لاره و موندله چې د یو سمستر لوستلو وروسته د پروان پوهنتون ته تبدیلي وکړه او په ۱۳۹۸ ه ش کال د نوموړي پوهنتون څخه په کادري نمرو فارغ شوو.

نوموړي له ۱۳۹۹ تر ۱۴۰۲ کال پورې د کابل امید – افغان ترک کورس کې کانکور آمادګي د استاد په صفت دنده تر سره کولو وروسته په ۱۴۰۲/۹/۲ د ازادې سیالی له لارې د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د کېمیا څانګې د علمي کادر غړی په توګه و منل شوو چې د خپلې څانګړې وړتیا او استعداد له درلودلو سره د څانګې د استاذانو په وړاندیز په ۱۴۰۳کال د خپلې څانګې د آمر په توګه و ټاکل شوو.

### ۴.٦. نوماند پوهنیار شیر محمد حریفال

شیرمحمد حریفال د امیرمحمد کمال زوی د حاجي اخترمحمد لمسی په ۱۳٦۷ ه.ش کال د مهاجرت په دیار پاکستان د بلوچستان صوبې کویټی په ښار کې زیږیدلی.

لومړنی زده کړې یې د کویټې ښار د مهاجرینو کمپ کې سرته رسولي له هغه وروسته په ۱۳۸۴ خپل ټاټوبي ته راستون او خپلې لېسې دورې زده کړې یې لوګر و لایت مرکز اړوند د کلنګار جهادي عالی لیسه کې په ۱۳۸۵ کال په عالي درجه پای ته رسولو څخه وروسته د څه ستونزوله کبله له درس څخه لیري پاتې شوی ولی د لوړ همت په درلودلو سره بالاخره د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د کېمیااو بیولوژي څانګې کې ادامه ورکړه چې په ۱۳۹٦ کال د یادې څانګې څخه په کادري نمرو فارغ او د بابوس عالی لیسې کې یې د استادې مقدسه دنده شروع کړه او په ۱۴۰۳ کال د ازادې سیالی له لارې د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی د کېمیادیپارتمنت کادري بست ته لاره پیدا د خپلې علاقې اړوند یې د استادي مقدسه دنده په یاده برخه کې شروع کړې چې لا هم په یاده برخه کې مصروف دی.

Ministry of Higher Education
Logar University
Vice Chancellor of Academic & Students Affairs
Faculty of Education
Department of Chemistry

# Chemistry Department Catalog

Prepared by: U. M. Kakar - Lecturar,
Sardarwali Saqib - Lecturar &
M. F. Sultani - Head Of Chemistry Department

Year: 2025